**لیکونکو**: اندریو کیلتی ، ابیکول فلد نګ اسمت ،جیسیکاپورکیس.

**منبع اودخپریدو نیټه** : ګلوبال ریسرچ «07-01-2019».

**ژباړونکی** : پوهند وی دوکتور سید حسا م «مل».

---

# افغانستان په انځورونو کي : کله چي دامریکی دمتحده ایالاتو د ناڅا پی بریدکونکی د لی دیو کورنی پر کور ګوزارکوی

## *Afghanistan in photo when a US strike hit a family Home*



*دا فغا نستان د هلمند په ولایت د لښکرګاه د بیړنی روغتیا یی مرستو دروغتون دروازی د تېپیا نو دراتګ په مخه خلاصی شوی وه .*

*«احسان الله هغه (څوارلس کلن) ټپی شوی هلک وه چی د خپل مخ دهغه نا منظم او څیری شوی غوښی چی د امریکا یی برید کونکي په مسلح برید سره ټپی شوی وه لمړنی کس وه چی دی روغتون ته را ورسول شو چی دهغه درملنه وشی».*

*دهغه کوچنی ورور(څلورکلن) هدایت الله نام چي پخپلودواړه پښواوپه ککره یا جمجمه کی ډیر ژور زخمونه لرل اودهغه کلمی لکه دیو پوقا نی په بڼه دهغه د ګیډی د جدار له یو سوری کړ شوی ټپ څخه د با ندی راوتلی وه ، روغتون ته راوړل شو له هغی نه وروسته نوراحمد (اوه کلن) اوپروانه (نه کلن) چی دهغه صورت دهغی د ککری دیو*

*ټپ له خونريزی څخه په وينی لړل شوی وه دغه روغتون ته راورسول شو اودغه ټول زخميا ن پر ډير چوپ اوچوپتيا سره چی ځنو دهغوی د شوک (shock) په حا لت کی وه دی شفاخا نی ته راورسول شو او دروغتون کا رکونکي د نورو زخميا نو د را رسيد و په انتظا ر کی چوپړ ته چمتو او قا بوو وه .*

*دڅو دقيقو په تيريدو سره ديو کورنی (13) غړي روغتون ته را ورسول شو چي په هغوکی (لس) ماشومان ، يوزاړه سړي او دوه اميدواره ميرمنی وه .*

*دوی واړه سره دنومبر دميا شتی په (24) ورخ کی دخپل کورپه دننه کی وه چي په يو ناڅاپی بڼی سره دامريکی د متحده ايالاتو د هوايی ځواکونو دالوتکی تر بمبا ری لاندی پريوتل او ټپيان شول چِی بيا وروسته له دغه ټپيا نو څخه د هغه کورنی دوه نفره خپل ژوند دلاسه ورکړل يعنی (15) کلن عصمت الله اودهغه پلار عبيدالله .*



***(14) کلن احسان الله د دی روغتون عا جل څا نکی ته راورسول شو کوم چی هغه خپل يوسترګی يی دلاسه ورکړی وه او بله سترګي يی څيری شوی وه چی با يد په جراحی عمل سره دهغه سترګی وويستل شی ،هغه همد ارنګه له ککری څخه بيا د پښوتر غټی ګوتی پوری بی شميره زخمونه درلودل چی بايد په جراحی عمل سره دهغه درملنه ترسره شی .« عکاسی اندريوکوالتی»***



(نه) کلن پروانه کوم چِي هغه پخپلو پښواوککره کی وړی او اوغټ زخمونه درلود او ملالی چی د هغه عمر معلومه نه وه په انتظا رکی وه چي ددی روغتون په عا جل سرویس کی درملنه وشی «اندریو کوالتي».



دنوموړی روغتون نرس دنوراحمد (اوه) کلن ناروغ سره دهغه ددردونو په تسکین اودهغه دزحمونو په بیا رغونی اوهم دهغی په ګام اخیستلو سره د لمړی ځل دپاره وروسته له هغه چی تپی شوی وه ډیر هڅی اواند ترسره کړ ( ا ند ریوکوالتی )

يواځې څو ورځې وروسته له دې خونړۍ يرغل څخه دغه امريکا يي جګړه ما ر اويرغلګرو پرېوه بله په نښه کړ شوي ودانۍ باندې دروند يرغل ترسره کړل چې دهغه په ترح کې دغيرنظاميانو دتلفاتو په شميره کې زياتوالی راوستل يعنې چي په دې بريد کې چي دهلمند د ګرمسير په اولسوالی کي ترسره شو (23) هلمندی غيرنظاميان خپل ژوند دلاسه ورکړل چې ډيری دهغو ما شوما ن اود کم عمر خا وندان وه .

دا دافغانستان په اړين دامريکی دمتحده ايالاتو دهغی هڅی اواند په اړه يولړ پوښتنې رامينځته کوی اوهغه هم بيا په ځا نګړی ډول سره چي اولسمشر ترامپ **اعلان وکړ چي هغه دامريکی نيميا يی پوځيا ن له ا فغا نستا ن او همد ارنګه خپل سرتيری له سوريي څخه با سي چې ددی اعلان په مقا بل کی د امريکی د فاع وزير جيمس متيس کلک غبرګون وښود اوله خپل دندی څخه استعفی ورکړ.**

په کال (2009) کی ديولړ ستونزو او دحالاتو دخرېږتيا له کبله دامريکی دهوايي قوتونو هوايي بريدونو اوعمليات په ټپه ودريد چې دهغه په نتيجه کی دملکی خلکودتلفاتو کچه هم راټيټ شو، اما له بده مرغه کله چې په کال (2015) کی دځنو نامعلوموموافقاتو له مخی دغه لوبه يعنی دامريکی دهوايي ځواکونو هوايي عمليا ت او حملی بيا له سره پيل شو نو دهمغی نيټی څخه بيا د ملکی تلفا تو کچه هم لوړ شو کوم چی پروسږ.کال د ملکی خلکو د تلفا تو کچه ډير لوړ اوبوږنونکی وه .

نوی ارقام داسی په ګوته کوی چی دامريکی دهوايي ځواکونو په بريد اويرغل کی ډير لوی ودانی له مينځه وړل کيږی چی دهغه سره دغيرنظاميانو تلفات هم خپل لوړ کچي ته رسيږی او امريکا يا نو ددی په عوض چی دامريکی دوضع کړشوی قا نون څخه پيروی وکړی اوهڅه وکړی چی غيرنظاميا نو ته ديرغل په وخت کی خطر پيدا نشی اما برعکس دوی په هريو هوايي بريد کی غيرنظاميا ن وژنی اوله خپلو قوانينو څخه سرغړونه کوي .

د يو رسمی اداری په يو ورکړ شوی راپور کي داسي يا دونه شوی چی امريکا يا نو داکتوبر په ميا شت په ا فغا نستا ن کي دخپل هوايي ځواک د بريدونو په ترڅ کی (60) لوی ودانی نړولی اود خا وری سره يی خاوری کړی دي اوهغه هم په ځا نګړی توګه په دی دوو وروستنيو ميا شتو کي .

دغه له هری غاړه تحليلی اطلاع او خبر د ملګرو ملتونو د تحليل کونکو ماهرانو په راپورکی په ډاګه شوی کوم چی هغوی تير ميا شتی دغه ګذارش رابرابر کړی وه وايي چی دامريکی دهوايي ځواکونو دحملو دزياتوالی په ترڅ کی دملکی خلکو دتلفاتو شمير دپخوا په پرتله دوه چنده شوی دي.

دامريکی دمتحده ايالاتو پوځيان نوموړی اداری ته دخپلو کړنو اوعمليا تو په اړه داسی يا دونه کوی چی زمونږ لوی ستونزه دادی چی طا لبا نود ملکی خلکو تر شا په کورونو اوودانيو کی پټ کيږی يعنی چی د ملکی خلکو څخه د سپر په توګه کا ر اخلی اومونږ

نشوکولای چی دعملیات په وخت کی طا لب له نا طا لب څخه تشخیص کړو نو طا لبا نو چی د ودانیو څخه په ګټه اخیستو پرمونږ با ندی ډزی کوی نوکله چی مونږ پرهغو باندی ګوزارکوو نوهرومرو چی ودانی هم تخریب کیږی نو د همد ی د لیل سره غیر ممکن بریښی چی د جګړی ټول قوانین کوم چی ملکی خلکو ته خطر پید ا نکړی د دی خند په موجود یت سره په نظرکی ونیول شی .

دجګړی د منل شوی قوانینو رعایت کول په خمکنی جګړه کی نسبت هغه جنګ جګړی ته چی په یوه ودانی کی ترسره کیږی آسا نه دی اما کله چی د ښمن ځا ن په یو ودانی کی د ملکی خلکو ترشا پټ کړی نو په هغه صورت کی دجګړی دقوانیو رعا یت کول ډیر سخت اوغیرممکن دي .اودبلی خوا څخه بریدونه او حملی معمولاً په متضادو ساحو کی ترسره کیږی اما مسوله اداره دنده لری چی هرهغه ودانی چی د عملیا تو په وخت کی تخریب کیږی اوهلته ملکی خلکو هم خپل ژوند دلاسه ورکوی بشپړ معلوما ت او راپور تر لاسه کړی .

## په افغانستان کی دامریکی هوایی یرغل اوپه تیره بیا دبی پیلوته الوتکی ګوزارونه دا فغا نستا ن د جګړی پای ته رسولو سره سره پر طالبانو باندی نسبت دترهګرو پر شبکی باندی زیات دي



ځلورکلن هدایت الله کوم چی دروغتون په « د جدی مراقبتونو په سرویس کی بستری شوی وه» نو مخکی چی دخپل مور سره سهاروختی په زنانه سروس کی یوځای بستر شی په اولچیر کی وه



قراره اودهغه ځوی  هدایت الله دروغتون دښځینه اودکوچنیانو په سرویس کی
د بهبودی په حالت کی لیدل کیږی «عکاسی اندریو کوالتی»



دروغتون جراحا ن د«هدایت اللهّ» مړی اوبیکاره غوښی پریکوی اوهغوی  داسی
توضیح ورکړل چی هره  تروما تیکی (د جگړی ضربتی زخمونه ) زخم دهوا  اود محیط
دککړتیا اودالودګی په موجودیت سره داډول زخمونه باید چی دبیرید شی «اندریوکوالتی



**د «احسا ن الله » مور قراره (پنځوس کلن) اودهدایت الله تره (دیرش) کلن سردار ولی دروغتون په عا جل سرویس کی ، د (هدایت الله ) تره د (هدایت الله) مور (قراره ) ته نه وه ویلی چی د(هدایت الله) سترګي ځیری شوی او هغه نور دعمر تر پا یه پوری څه نشی لید لی « اندریو کوالتی»**

**دلوی مندا** (Loy Manda) کلی د لشکرګاه د ښا ر دهلمند ولایت له مرکز څخه د با ند ی تقریباً (لس) میله لیری پروت دي ، په کا ل (2016) کی چی دافغان امنیتی قوتونه اوپه ا فغا نستا ن کی دامریکی د متحده ایالاتو دمیشتو پوځیا نو په مرسته سره له طا لبا نو څخه نیول شوی ځا یونه بیرته تر لاسه کړل ، نو په هغه وخت کی د **لوی مندا** کلی د جنګ جګړی په مقد م اویا په لمړی کرښه با ندی اغوښتي وه ، ا فغا نی ځواکونه دجګړی په وخت کی ددغه کلی په بغل کی سنګرونه نیولی وه چی دامریکایی د پوځیانو سره په ګډه عملیات کی له طا لبا نو څخه زیات سا حی بیرته ونیول .

دافغان دپوځ قوماندان چي **توریالی** نومیږی هغه په همغه ورځ کي دهغه کلی دتالاشی (checkpoint) په ساحه کی دجنګ د لمړی کرښی چی د عمومی سړک پر بغل کی وه هملته ځا ی پرځای شوی وه یعنی چی سنګر نیولی وه هغه په یو ګذا رش کی اړین ا داری ته وویل چی زه نه پوهید م چی د ا فغا ن د (20) نقلیه وسا یطو یو قطا ریا کا روان د ا مریکی د ځا نګړي عملیا تی ځواک سره په ګډه ددی لاری څخه د جنګ د کرښی په لور تیریږی ما د هغو د وسلو دګوزارونو اود مرمیو دراچلولو آواز واورید .

نو کله چی ددی کاروان دډزو آوازونه را پورته کیږی نو د اسحاق زی کورنی دخپل کورتول دروازي تړي نو په نابیره بڼی سره په همدی وخت کی له کوڅی څخه دوه مسلح طالبانو داسحاق زی حویلی ته را ننوځی – **داحسا ن الله** مور( قراره ) وایی چی دهغه

میره **عبیدالله** له دی طا لبا نو څخه په کلکه غوښتنه کوی چی د هغه دحویلی حخه ووځی طا لبا نودهغه خبری منی اما وروسته ددوه ډزو څخه چي پر کا روان باندی ترسره کوی بیا نو دهغه دحویلی څخه د با ندي کیږی .

ددی کلی په بل اړخ کی د**عبید الله** وراره **سیف الله** پخپل درملتون کی په کار بخت دی نوهغه ددغه قوتونو په دوهمه ډز او دروند ګوزار سره شوکه کیږی یعنی د **کا تلینګ (Gatling)** د (A-10)ما شیندار دډزی سره کوم چی دامریکی دهوایی قوتونو دالوتکو د وزرونو تر لاندی ځای پر ځای وی او دامریکی د هوایی ځواکونو د محا فظت لپا ره پکاروړل کیږي نوددی وسلی په وار اوګوزار سره **سیف الله** پخپلو سترګو دهغه ډزی له امله هغه راپورته شوی دوړی او غبا ر چی دهغه د تره **عبیدالله** د کور داونو د پا سه ولیدل نو په ډیر بیړه سره ځان دخپل تره کور ته ورسول .

دوخت په تیریدو سره «**سیف الله** » دخپل تره کورته را ورسید اودخپل تره دکور په حویلی کی دوه جسدونه چی دهغوی مخ په ټکرانو سره پوښل شوی وه ولید نو کله چی هغه ددی دوو جسد ونو له مخونو څخه هغه ټکران لیری کړ ولید چی دهغه تره **عبید الله** او دهغه دتره ځوی (پنځلس) کلن **عصمت الله** وه چی په دی یرغل کی خپل ژوند دلاسه ورکړی وه .

او دنورو (دولسو) څخه زیات چی ګڼ شمیر یی ماشومان وه په دی یرغل سره ټول ټپیان شوی وه ټولو دغه ټپی شوی ناروغان د درد له کبله سره چیغی وهلی تر هغه چی دوی بیا وروسته تر دوه ساعتونو روغتون ته را منتقل شول .

ددی یرغل څخه وروسته دکورنی هغه غړی چی ژوندی پاتی وه په روغتون کی بستر شوچی هغوی کله د جراحی په سرویس کی پخپلو بستروکی ولوید ل او کله هم په اولچیرونو کی دشفا خا نی د ګلابوبڼ ته راوړل کیده چی له آزاده هوا څخه تنفس وکړي .

د «قراره» چپه پښه چی ټوټی ، ټوټی مات شوی وه نو جراحانو دهغی دما تی پښیی ټوټی ټو ټی سره د کلکو فولادی سیخونو پوا سطه سره نښلولی وه ،هغه یعنی «قراره» زیات ناقراره وړه ماشومان درلود چی هغوی ټولوسره نارام اوچیغی وهلی چی کله ناکله هغوی په ولچیرونو کی د«قراری » تر بستر پوری روړل کیده چی که چیری خپل مور وګوری اویو څه تسل شی اما کله چی د«قراره» مشرځوی احسان الله دهغه دتره سردار ولی پواسطه سره «قراره» ته راوستل شو نودهغه سر په یو پنډ ټوکریا ګازململ پواسطه سره بنداژ شوی وه چی دهغه یوسترګی نیمه را ښکاریده اوهغه بل سترګی یی چي څیری شوی وه تربندیژلاندی پټ وه هغه سترګی چی داکترانودعملیات پواسطه سره ایستل شوی وه نو سردارولی «قراره» ته هیڅ نه وه ویلی چی د«احسان الله» سترګی له مینځه تللی اوهغه وروسته له دی نور هیڅ شی نشی لید لی.



*« احسان الله » خپل یو سترگی بلکل دلاسه ورکړی وه اوهغه بل سترگی یی چی ځیری شوی وه داکترانو هغه سترگی یی په عملیا ت سره راایستلی وه ، هغه همدارنگه پخپلو پښو او گیډه کی زیا ت زخمونه درلود دهغه تره دروغتون په بڼ کی دهغه ولچیرته نژدی نا ست دی اوپه چیغو چیغو سره ژاړی .(اندریوکوالتی)*



*«اته» کلن رحیم الله دجراحی په سروس کی دبهبودی په حال کی لیدل کیږی« اندریو کوالتی»*



رحیم الله او احسا ن الله دخپل تره سره زیا ت وختونه د روغتون په بڼ کی تیروی ( اندریوکوالتي)



هدایت الله دخپل خور پروانه اودخپل مور (قراره) سره دجدی مراقبتون په سرویس کی (قراره ) خپل ارامش تل دخپل ځامنوپه لیدو اونژدیوالی سره احساسوی( اندریو کوالتی)

دخدای بخښلی **عبیدالله** دکورنی یا تي غړی د خپل راتلونکی ژوند پر مصونیت باندی پوره بی باور دی چي څه به راپیښه شي . **سیف الله** پوه نشوه چي ولی امریکا یا نو

*دخپل ځان سره فکر ونکړل چې ولې یو کورنی ته داسې ضرر رسوی اویا یوکورنی دتباهی کندی ته اچوی سره دهغه چې زمونږ د بې ګناه هی ښکاره حقیقت دادی چې زمونږ دښځینه رنګینه جامی دحویلی په طناب کې دلمر وړانګی ته دوچیدو دپاره خړول شوی وه چې داپخپله یو روښانه حقیقت دی چې مونږ کاملاً بې ګناه او یا غی نه یوو – هوکې مونږ پوهیږو چې دامریکایی ځواکونو سره دهغو افغانی بې رحم ملګری یوځای وه چې دخپل امنیت دساتلو دپاره پر ودانی باندی یرغل راوړل کوم چې له هغه ودانی څخه طالبانو پرهغو باندی ډزی کړی وه .*

*دامریکې د پوځیانو یو ویاند اړین اداری ته وویل چې دیري وخت طالبانو ملکی خلک دسپر په بڼه ددشمن په مقابل کې پکار وړی .*

*سردارولی داحسان الله تره په دواړوخوا یعنی هم پر طالبانو او هم پرامریکایانو باندی ګوت څنډنی کوی او دواړه خوا ملامتوی چې دوی تل بې ګناه خلک د خپلو اهدافو د ترلاسه کولو دپا ره وژني .*

*کله چې یرغل کونکی امریکا یا نو د سا حی څخه لاړنو* ***دعبیدلله خا ن*** *دوستان اودهغه نژدی خپلوان او ځنی طا لبا ن په ګډه سره دهغه مرحوم کور پاک اوستره کړل او دمړو په تکفین اوجنا زوکې دخپل وسی پوری مرستی ترسره کړل – په دی وخت کې یو سپین ږیری حاجی ظاهر هغه تکران چې دهغه جسدونو په مخ کې غوړل شوی وه دهغو له مخونو څخه لیری کړ او د یو سخت طنز په ډول له هغه جسدونو څخه پوښتنی وکړ ، ایا تا سی په ریښتیا سره پر امریکا یا نو باندی ډزی کړی وه ؟ هغه نو بیا وروسته یاغیا نو ته لاړ اوپه ډیر غوسی سره هغو ته وویل وګوری چې تا سی پر مونږ څه راوستل آیا دا ستا سی جها د دی ؟ طالبانو خپل ټوپکونه غاړی ته واچول اوپه چپه خوله ودرید اوله هغه ځای څخه ترشا شو .*

**------------------------------------ په درنا وی ( 2019-01-11)**